# جريده ميــــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه

د هستئ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تيری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۵ غبرګولی ۱۴۰۲ هـ ش ۲۶ ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۴ هـ ق ۱۵ جون ۲۰۲۳ م مسلسله شمېره (۳۶)


## د سترې محکمې د عالي شورا ۲۵مه غونډه ترسره شوه

د چهارشنبې او پنجشنبې په ورځو (۱۱، ۱۲/ ذوالقعده/۱۴۴۴ هـ ق)نېټو د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۲۵مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو (۱۵) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د يادو موضوعاتو اړوند فيصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا ياده ناسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د عالي شورا ۲۶مه غونډه ترسره شوه

چهارشنبه( ۱۸/ذوالقعده/۱۴۴۴ هـ ق)نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې عالي شورا ۲۶مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو (۷) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د يادو موضوعاتو اړوند فيصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا ياده ناسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.




## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۴۵**
**نېټه: ۸/ ۱۴۴۴/۹ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۸/۸هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د حوت مياشتې د لسمې (۱۰) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې اتمه موضوع داسې وه: ((د بعضې دوسيو د تعقيب يا پرمخ بيولو لپاره د دعوې اصل جانب نه راځي بلکه د مدافع وکيل محکمې ته را استوي په دې اړه چې څرنګه ترتيب وشي؟))

چې په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۲) مورخ ۱۴۴۴/۸/۸هـ ق د اتمې پريکړې په اساس داسې هدايت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت په محکمو کې د قضيو او دعوو جانبين حق لري چې اړونده دوسيه خپله تعقيب کړي او يا هم د خپل حق څخه د دفاع په خاطر وکيل وټاکي هغه که مدافع وکيل وي او که بل وکيل وي.

همدارنګه د عدليې وزارت لخوا د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره جوړه شوې او د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائيد شوې ده چې يادې کړنلارې ته په کتلو، د جزائي قضاياوو په حق الله برخه کې مدافع وکيل د فورم په اساس ټاکل کيږي او د محکمې لخوا د شرعي وثيقې (وکالت خط) ترتيبولو ته ضرورت نه لري، طبق ماده (۴۲) د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره.

د حقوقي او جزائي قضيو په حق العبدي برخه کې مدافع وکيل د شرعي وثيقې په واسطه ټاکل کيږي طبق ماده (۴۳) د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره.

چې دغه شرعي وثيقه (وکالت خط بالاقرار او يا وکالت خط بالشهود) د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۱/۲۵هـ ق مطابق د اسلامي امارت په محکمو کې ترتيبيږي، نو په دې اساس وکيل مدافع کولای شي چې د جزائي موضوعاتو په حق الله برخه کې د پورته ذکر شوي فورم او د حق العبد په حقوقي او جزائي موضوعاتو کې د هري موضوع د تعقيب لپاره د شرعي وثيقې (وکالت خط) په درلودلو سره موضوع پر مخ يوسي او په وثيقه کې د ذکر شوي مؤکل پر ځای په قضائي مجلسونو کې ګډون وکړي او د خپل مؤکل د حق څخه دفاع وکړي.

بناءً د وثائقو آمريتونو او ټولو محکمو ته دې خبر ورکړل شي چې مدافع وکيلانو ته د يادي وثيقې (وکالت خط) په ترتيب کې اصولي همکاري ورسره وکړي او هغه محاکم چې مدافع وکيلان ورته مراجعه کوي د پورته ترتيب موافق دې ورسره اصولي همکاري وکړي .))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو او د وثائقو آمريتونو ته واستول شو ترڅو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

پاتې برخه ص ۳

**په نبوي دوره کې قضاء**

**پنځمه برخه**

ګورئ دا مسئله ده چې مفلس پوروړی به نه بندي کيږي، بلکې هغه پوروړی چې شتمن وي او بيا هم پور ځنډوي، بندي دې کړل شي، لکه حديث شريف کې راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:» د شتمن سړي لپاره د پور ځنډول ظلم دي «[رواه البخاري رقم(۲۴۰۰) باب: مطل الغني ظلم].

په مدينه منوره کې د مسلمانانو لپاره د رسول الله صلي الله عليه وسلم پرته بل قاضي نه وو، ځکه د قضاء ټولې چارې په خپله د رسول الله صلي الله عليه وسلم تر غاړه وې او ځينې وختونه به يې خپل په شتون کې يو صحابي د قاضي په توګه وټاکی، دا ددې لپاره چې هغوی ته به يې د خلکو ترمنځ د قضاء طريقه او اصول ور ښودل، تر څو د رسول الله صلي الله عليه وسلم په نه شتون او رحلت وروسته په همدې طريقه تګ وکړي، او يا به يې داکار دوی ته د تمرين او ازموينې په پار کاوه، مخکې ددې څخه چې دوی بېلا، بېلو ښارونو ته د قضاء د منصب لپاره ولېږي، بايد هر څه يې په عملي توګه زده کړي وي.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۰ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضايي تعليماتو رياست کې جديدالتقرر ۸ تنه علماء کرامو ته علمي اوتربيتي سيمينار ورکړل شو

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضايي تعليماتو رياست کې د پکتيکا، جلال اباد او کابل ولايتونو علماء کرامو ته علمي قضايي سيمينار ورکړل شو، دغه سيمينار د روان ۱۴۴۴هق د ذوالقعدې په ۱۱مه نېټه پيل شو او د همدې مياشتې تر۱۹مې نېټې پورې يې دوام وکړ.

په دې سيمينار کې د کابل ۴ تنه، د پکتيکا ۳ تنه، او د جلال اباد يوتن شامل وو.

په ياد سيمينار کې نوموړو ته د مسلکي استادانو له لوري د اسلامي امارت د اداري اوحقوقي اصولنامې سربېره د معين القضاة او رهنمائي وثائق مهمې برخې او د قضاء او افتاء په برخه کې مهم درسونه وويل شول.

همداراز وربانديې عريضې ليکلو بيا د مختلف النوع فيصلو او ابلاغ پاڼې ليکلو او مطالعه کولو پورې عملي کار وشو.

ياد سيمينار پنجشنبه چې د ذوالقعدې له ۱۹مې نېټې سره سمون خوري ماپښين يوه بجه پای ته ورسېد.

د سيمينار ګډونوالو خوښې څرګندوله چې په سيمينار کې يې د ظرفيت، ارتقاء اوعملي کار سره اشنا شول، هغوی له سترې محکمې او بيا د قضايي تعليماتو رياست له استادانو څخه مننه کوله چې دوی ته يې دا زمينه مساعده کړه اونه سترې کېدونکې هلې ځلې يې ورسره وکړې.

## دکابل د مرافعه محکمې رئيس د يوه پلاوي په مشري له يو شمېر ابتدائيه محاکمو ليدنه وکړه

د ۱۴۴۴ هـ. ق کال د ذوالقعدې مياشتې په ۹مه نېټه د کابل ولايت د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي عبدالشکور «رشاد آخندزاده» د مرافعه محکمې د تجارتي ديوان د رئيس ښاغلي مولوي عبدالله «اسرار» او د مرافعه محکمې د عمومي رياست د تحريراتو د عمومي مدير ښاغلي عنايت الرحمن «صافي» په ملتيا د دغه ولايت د شکردرې، استالف، کلکان او ميربچه کوټ ولسواليو د ابتدائيه محاکمو له ورځنيو چارو څخه د څارنې او کنټرول په موخه ليدنه وکړه.

د مرافعه محکمې دغه پلاوي د ذوالقعدې په نهمه نېټه د يادو ولسواليو ابتدائيه محاکمو ته په ورتګ سره د محاکمو د قضائي او اداري چارو تر څېړلو وروسته شته نيمګړتياوې په ګوته او د حل په موخه يې اړوند مسؤلينو ته بشپړې لارښوونې وکړې.

د اجراآتو تر څېړلو وروسته يې په جلا - جلا ډول د يادو محاکمو له مسلکي غړو او د حقوقو له مديرانو سره ناستې وکړې.

په غونډو کې د حقوقو مديرانو ته لارښوونې وشوې چې خپلې چارې دې له محکمې سره په همغږۍ ترسره کوي او د اړتيا پر مهال دې له محکمې څخه لارښوونه غواړي.

## رئيس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولايت بلخ از محاکم ابتدائيه ولسوالی‌های دهدادی، بلخ و نهرشاهی بازديد کرد

يوم چهارشنبه مؤرخ ۱۴۴۴/۱۱/۱۸ هـ ق مطابق ۱۴۰۲/۳/۱۷ هـ ش محترم مولوی محمدگلاب «فاروقی» رئيس محکمهٔ مرافعهٔ ولايت بلخ به همراهی خواجه ولی محمد محرر مسلکی ديوان مدنی مرافعه و عزيرالدين «عزيزی» مدير حفظ و مراقبت از محاکم ابتدائيهٔ ولسوالی های دهدادی، بلخ و نهرشاهی آن ولايت بازديد بعمل آورد.

رئيس محکمهٔ مرافعه و هيئت معيتی شان در حالی از دفاتر حاضری، اندراج، فيصله جات، وثايق و تعميرات اداری محاکم مذکور ديدن بعمل آورد، که همه قضات و منسوبين محترم محاکم مذکور بالای وظايف شان حاضر بودند و به شرح ذيل ارزيابی محاکم فوق صورت گرفت:

۱ – اجراآت يوميهٔ محکمهٔ ابتدائيهٔ ولسوالی دهدادی خوب بوده و بخاطری بهبود ديگر امور به مسؤولين اين محکمه هدايات ورهنمودهای لازم صورت گرفت.

۲ – اجراآت محکمهٔ ابتدائيهٔ ولسوالی نهرشاهی کاملاً خوب بوده و مطابق اصول اداری انجام داده ميشد.

۳ – اجراآت محکمهٔ ابتدائيهٔ ولسوالی بلخ نيز قناعت بخش بود وبرای هرچه بهبود به مسؤولين محکمه هدايات و رهنمودهای لازم صورت گرفت.

## رئيس عمومی محکمه استيناف ولايت سمنگان از زندان مرکزی ايبک بازديد کرد

بتاريخ ۱۴۴۴/۱۱/۱۵ هـ ق محترم مولوی محی الدين «عمری» رئيس عمومی محکمه استيناف ولايت سمنگان در حاليکه مولوی محمد امين « ثاقب» رئيس ديوان جزا و مولوی عبدالرؤف رئيس محکمه ابتدائيه شهری، مولوی گلاب الدين رئيس ديوان جزا و مولوی عبدالجبار رئيس امنيت عامه ابتدائيه شهری وی رای همرای می نمودند از زندان مرکزی ايبک و مرکز اصلاح و تربيت اطفال بازديد بعمل آورد.

ابتداء رئيس محکمه استيناف و همراهانش با نمايندگان محبوسين در داخل زندان و مدير ارتباطات زندان در بخش محاکم يکجا صحبت کرده و در ضمن صحبت ها از احوال تمام محبوسين جويا شده و برای آنها توصيه های لازم نموده فرمود اين حبس را برای خويش پند دانسته جهت اصلاح اعمال خود تلاش بخرچ داده و از عمل کرد سوء در نزد الله متعال نادم و پشيمان گرديده و تقوا و خدا ترسی را صفت خويش قرار دهيد و در داخل زندان با اخلاق حميده و با اخوت و برادری زيست داشته و نظافت محيط و جسم و مکان خويش را جداً رعايت نمائيد.

ثانياً بعد از استماع شکايات و مشکلات محبوسين به مسئولين زندان توصيه و هدايت نمود که با محبوسين رفتار نيک و حسنه داشته و به تمام مشکلات آنها چه از نگاه مکان، خوراک، مريضی و غيره توجه و رسيدگی لازم نموده رفع مشکل نمائيد.

## طی دو هفته در محاکم ابتدائيهٔ زون های چهارگانه شهری و محکمه ابتدائيه تجارتی شهر کابل به تعداد (۶۳۸) دوسيه حل و فصل گرديده است.

گزارش توحيدی از اجراآت دو هفته‌ی بخش‌های جزائی و حقوقی محاکم ابتدائيه زون های چهارگانه شهری و بخش تجارتی محکمه ابتدائيه تجارتی شهر کابل از تاريخ ۱۴۴۴/۱۰/۱۶ الی ۱۴۴۴/۱۰/۳۰ هـ. ق به شرح ذيل مواصلت ورزيده است:

**در بخش جزائی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۳۰۳) دوسيه های جزائی وارد دواوين محاکم ابتدائيه چهار زون شهر کابل گرديده؛ در حالی‌که از قبل نيز چندين دوسيه موجود بوده. که از جمله به تعداد (۱۲۴) دوسيه فيصله شده، (۷۵) دوسيه مسترد مکتوبی و در مورد (۸۳) دوسيه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسيه ها تحت دوران قرار دارد.

**در بخش حقوقی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۱۸۵) دوسيه حقوقی وارد دواوين محاکم ابتدائيه چهار زون شهر کابل گرديده در حالی‌که از قبل نيز چندين دوسيه موجود بوده. که از جمله به تعداد (۵۰) دوسيه فيصله شده، (۶۵) دوسيه مکتوبی مسترد و در مورد (۱۲۱) دوسيه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسيه ها تحت دوران قرار دارد.

**در بخش تجارتی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۱۵۷) دوسيه های تجارتی وارد دواوين الف، ب، بانکی و مالياتی محکمه ابتدائيه تجارتی شهر کابل گرديده در حالی‌که از قبل نيز چندين دوسيه موجود بوده. که از جمله به تعداد (۳۷) دوسيه فيصله شده، (۷۲) دوسيه مکتوبی مسترد و در مورد (۱۸) دوسيه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسيه ها تحت دوران قرار دارد.

## گزارش سفر هيئت محترم تفتيش قضائی زون جنوب غرب غرض تفتيش از اجراآت قضائی و اداری محاکم ولايت دايکندی از بابت سال ۱۴۴۴ هـ ق

بر اساس هدايت مقام عالی تميز زون جنوب غرب و معاونيت قضائی مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان بتاريخ ۱۴۴۴/۱۱/۴ هـ.ق محترم شيخ عبدالحبيب «تقی»، محترم مولوی عبدالولی «ابوسليم»، محترم مولوی عطاء الرحمن «عاصم» و محترم مولوی عبدالبصير «سميع» مفتشين قضائی معاونيت قضائی مقام عالی ستره محکمه به ولايت دايکندی تشريف برده و از اجراآت قضائی و اداری محکمه مرافعه، محکمه ابتدائيه شهری و محاکم (نه گانه) ولسوالی های مربوطه آن ولايت و فعاليت های گذشته محاکم را از نقطه نظر ميعاد قانونی رسيدگی به دوسيه جات، چگونگی ترتيب وثايق، فيصله ها، قرار های قضائی، عرايض، اشتراک رؤسای محاکم مرافعه و شهری در جلسات دواوين، رسيدگی به موقع و همه جانبه به مطالبات و شکايات اصحاب دعاوی، نظارت از ارسال راپور های احصائيوی، نظارت از ارسال راپور های حاضری محاکم به رياست پلان و پاليسی، نظارت از بخش مالی محکمه مرافعه، و هم چنان هيئت محترم تفتيش از محبس مرکزی ولايت دايکندی نظارت نموده وضعيت محبوسين و مشکلات زندانيان را در چند کتگوری خاص از قبل تعيين شده که عبارت از: (نوع جرم، تاريخ وقوع جرم، محل وقوع جرم، سرنوشت محبوسين، مدت حبس، چگونگی رفتار مسئولين محبس همرای محبوسين و تصاميم محاکم مربوطه) پرسش و استماع نموده و هدايات لازم را برای مسئولين محبس داده و دوباره عازم محکمه مرافعه گرديدند و در اخير به تاريخ ۱۴۴۴/۱۱/۸ جلسه اختتاميه را به منظور توضيح اهميت و اهداف تفتيش قضائی در پرتو احکام شريعت اسلام به اشتراک محترم شيخ الحديث مولوی عبدالکريم «محمدی» رئيس عمومی محکمه مرافعه ولايت دايکندی، معاونيت قضائی ولايت دايکندی، قضات دواوين استينافی، قضات دواوين محکمه ابتدائيه شهری، قضات و کارمندان آمريت ثبت اسناد وثايق و مخزن محکمه مرافعه، کارمندان آمريت حقوق و تمام کارمندان اداری و خدماتی محکمه مرافعه و محکمه ابتدائيه شهری در تالار جلسات رياست عمومی محکمه مرافعه داير و پيرامون اخلاق و سلوک قضائی و اداری صحبت نموده و برای تمام اشتراک کنندگان در جلسه هدايات لازم را دادند و جلسه با دعائيه خير خاتمه يافت.

## د هلمند د مرافعه محکمې د رئيس په مشري يوه پلاوي د نهرسراج ولسوالۍ له ابتدائيه محکمې ليدنه څخه وکړه.

دوشنبه د ۱۴۴۴/۱۱/۹ هـ ق نېټه د هلمند د مرافعه محکمې د رئيس مولوي محمد نبي حماس صاحب په مشري يو مل پلاوي د نهر سراج ولسوالۍ ابتدائيه محکمې ته د اداري او قضائي چارو د ارزونې په موخه سفر وکړ.

ياد پلاوي د محکمې محبس، اداري کارونو، د بنديانو د فيصلو، اوسېدو ځای او د محبس نورو اړينو موضوعاتو پوښتنه وکړه.

همدا راز له نظارت وروسته د نهر سراج ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې په انګړ کې د يادې ولسوالۍ امنيه قومندان او ولسوال صاحب سره ګډه مجلس وکړ، چې دواړو لوريو يو او بل ته د مشترکو همکاريو ډاډ ورکړ، په پای کې د حماس مولوي صاحب له لوري د محبس د مسؤلينو سره د محبس اړتياوو ته په کتو کافي اندازه مرسته وشوه.

# رئیس محکمۀ مرافعۀ فاریاب از محبس مرکزی آن ولایت دیدن نمود

به تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۱۵ هـ ق محترم الحاج مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب با همراهی محترم مولوی عبدالکریم ابوطیب رئیس دیوان امنیت عامۀ مرافعه و محترم مفتی عبدالرحمن مفتی زاده عضو محرر دیوان جزا مرافعه از محبس عمومی مرکزی ولایت فاریاب باز دید به عمل آورد.

رئیس محکمۀ مرافعه با هیئت همراهش در این بازدید ابتداء با مسؤولین محبس مرکزی ولایت فاریاب بطور جداگانه روی موضوعات مربوط ملاقات نمود، برای آنها توصیه و هدایات لازم کرد، برخی پیشنهادات مسؤولین را یادداشت کرد و بخاطر رسیده گی به آن با همآهنگی و همکاری محاکم تبادل نظر صورت گرفت.

همچنین از بخش های مختلف محبس و توقیف خانۀ محبس مرکزی بازدید کرد و بخاطر رسیده گی اصولی به دوسیه جات شان اطمینان داده شد.

در ضمن برای مسؤولین محبس در مورد تعلیم و تربیه، اعاشه، برخورد و سلوک نیک با محبوسین هدایات لازم داد و هکذا به مسؤولین محبس وظیفه سپرد؛ تا آنعده از محبوسین که دوسیه های نسبتی شان تحت دوران محاکماتی بوده و یا متهمین هستند در بخش توقیف خانه بطور جدا نگهداری شوند.

موصوف گفت که آن تعداد محبوسین که دوران محاکماتی دوسیه های نسبتی شان طی مراحل و یا قطعی و نهائی شده است در بلاک جداگانه نگهداری شوند.

# د نورستان ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ د ولایتي ادارو د مسؤولینو ناسته ترسره شوه

په ۱۴۴۴/۱۱/۱۷ هـ ق نېټه د نورستان ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالار کې د یادې محکمې د رئیس محترم مفتي عبیدالله (سلیم) په مشرۍ د عدلي، قضائي، امنیتي او کشفي ارګانونو ترمنځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د کلام الله د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، د نورستان د مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي عبیدالله (سلیم)، د عدلیې رئیس، د ولایت مقام استازي، د امنیه قوماندانۍ استازي، د استخباراتو ریاست استازي او امربالمعروف و نهي عن المنکر ریاست استازي ګډون درلود.

د غونډې په پیل کې د نورستان د مرافعه محکمې رئیس راغلو مسؤولینو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د غونډې پر اهمیت هر اړخیزې خبرې وکړې.

وروسته د عدلیې رئیس محترم مولوي عبدالله د قانون په چوکاټ کې د عدلي، قضائي، امنیتي او کشفي ارګانونو مسؤولینو ته د دوی د صلاحیتونو او مسؤولیتونو د ښه ترسره کېدو په تړاو تفصیلي وینا وکړه.

دغه راز د نورو ریاستونو راغلو استازو په خپل وار سره د غونډې د اجنډا په تړاو ویناوې وکړې، قضائي او عدلي ارګانونو ته یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

پردې سربېره ګډونوالو په خپل وار سره د ستونزو او مشکلاتو په اړه د ناستې ګډونوالو ته خپل وړاندیزونه شریک کړل او ټولو ارګانونو د اسلامي نظام د استحکام لپاره یو بل ته د لازمې اصولي همکارۍ ډاډ ورکړ.

ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۴۶

### نېټه: ۱۱ /۱۴۴۴/۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاریخ ۱۴۴۴/۸/۸هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د حوت میاشتې د لسمې (۱۰) نیټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یادې غونډې لسمه موضوع داسې وه: ((کله چې ابتدائیه محکمه فیصله وکړي یو جانب مرافعه طلب سي یا مرافعه محکمه فیصله وکړي یو جانب تمیز طلب شي نو په دې صورت کې به دوسیه په کوم ترتیب مرافعه محکمې او د تمیز عالي ریاست ته استول کیږي؟))

په اړه یې د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۳۲) مورخ ۱۴۴۴/۸/۸هـ ق د لسمې پریکړې په اساس داسې هدایت وکړ: ((لوړو محکمو ته د دوسیې د استولو د ترتیب په باره کې دې د اسلامي امارت د محاکمو د عالي ادارې مکتوب نمبر (۱۵۷ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۶/۱۱هـ ق مضمون یو ځل بیا ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستول سي تر څو د هغه مطابق عمل تر سره شي.))

د سترې محکمې د عالي شورا په هدایت کې د ذکر شوي مکتوب نمبر (۱۵۷ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۶/۱۱هـ ق مضمون داسې دی:

((کله چې مرافعه محکمې فیصله وکړه او یو جانب تمیز طلب سو دغه تمیز طلب جانب خپل ټول اوراق د تمیز عالي ریاست ته وروړي خو هغه بل جانب یې بیا پر خپل وخت خپل اوراق د تمیز عالي ریاست ته نه وروړي چې په دغه وجه ځیني موضوعات ډیر ځنډیږي او د یو جانب د بې ځایه سرګردانۍ او مشکلاتو سبب ګرځي، د دغه مشکل د مخنیوي د پاره به مرافعه محکمه داسې ترتیب کوي: چې کله یې فیصله ابلاغ کړه د فیصلې اصل به محکوم له ته او نقل به یې محکوم علیه ته ورکړي.

تر دغه وروسته به په محکمه کې موجود د هر جانب ورقې جلا جلا استېپلر کړي تر څو د یو جانب ورقې د بل جانب په ورقو ګډې نسي، هره ورقه د دوسیې به ټاپه کړي.

د هر جانب د اوراقو شمیر او د مجموعه اوراقو شمیر به په خپل مکتوب کې ولیکي په پاکټ کې به یې بند کړي ټاپه به پر ولګوي او د تمیز طلب کس په لاس به یې ورکړي ورته وبه وایې چې همداسې بند پاکټ به تمیز ته رسوي.

او مرافعه محکمه به و تمیز طلب کس ته ووایي که کوم اعتراضات د مرافعه محکمې پر فیصله لري هغه خپل اعتراضات هم د دغه دوسیې سره یو ځای په جلا پیل کې و تمیز عالي ریاست ته تسلیم کړه.

د دوسیې د ټولو اوراقو فوټو کاپۍ به محکمه واخلي په محکمه کې به یې محفوظ کړي.

مرافعه محکمه به دغه مکتوب چې د جانبینو د اوراقو شمیر پکښې لیکل سوی دی یو نقل د واټساپ له لارې د تمیز عالي ریاست ته واستوي.

چې کله موضوع د تمیز عالي ریاست څخه فارغه سوه نقض یا تائید د فیصلو یې وکړي د تمیز عالي ریاست به خپل دغه د تائید یا نقض مکتوب په دوسیه کې کښیږدي د مخکې په شان به د دوسیې ټول اوراق په پاکټ کې بند کړي ټاپه به یې کړي چې کوم چا تمیز ته راوړي وه هغه ته به یې ورکړي ورته وبه وایې چې مرافعه محکمې ته یې یوسه.

د تمیز عالي ریاست به خپل دغه د نقض یا تائید مکتوب د واټساپ د لارې و مرافعه محکمې ته هم واستوي.

یادونه: مرافعه محکمه به په فوق الذکر ترتیب باندې و تمیز طلب کس ته پوره سر ورخلاصوي، همدارنګه د مرافعه طلبۍ په وخت کې به ابتدائیه محاکم د پورته ترتیب موافق دوسیې مرافعه محکمې ته استوي تر څو د ځنډ، جعل او تزویر مخنیوی وشي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا د هدایت مطابق د محاکمو د عالي ادارې د مکتوب نمبر(۱۵۷ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۶/۱۱هـ ق مضمون د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۴۷

### نېټه: ۱۹ /۱۴۴۴/۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاریخ ۱۴۴۴/۹/٦هـ ق چې د ١٤٠٢ هجري لمریز کال د حمل میاشتې د اتمې (۸) نیټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یادې غونډې لومړۍ موضوع داسې وه: ((هغه فیصلې چې په تعزیر بالحبس یا تعزیربالضرب (دُره وهلو) سره صادرې شوې وي او په ابتدائیه یا استیناف مرحله کې قطعي شي، یادې فیصلې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۳۸) مورخ ۱۴۴۴/۶/۴هـ ق مطابق د تطبیق د امر ترلاسه کولو لپاره د سترې محکمې محترم مقام ته را استول کیږي چې ډیر په ځنډ رارسیږي په دې اړه چې څرنګه ترتیب وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۳۵) مورخ ۱۴۴۴/۹/۶هـ ق د لومړۍ پریکړې په اساس د یادې موضوع په اړه داسې هدایت وکړ: ((په هغه موضوعاتو کې چې په ابتدائیه یا استیناف کې یې تعزیري فیصله قطعي کیږي ځیني وخت فیصله د حبس سوې وي یا د دُرو سوې وي یا د دواړه (حبس او دُرو) سوې وي دا چې د دغه تعزیراتي فیصلو را استول سترې محکمې ته کله کله وخت نیسي نو محاکم دې کوشش وکړي په هره ممکنه طریقه چې وي بې له ځنډه دې مستقیماً د سترې محکمې محترم مقام ته راواستوي او د ځنډ په صورت کې چې بندي تر خپل اندازه زیات په حبس کې پاتېږي یعنې د فیصلې حبس یې پوره سوی وي، مربوطه محکمه دې په تضمین د ایله کیدلو خبره د سترې محکمې د محترم مقام سره شریکه کړي او د دُرو د تطبیق څخه مخکې دې بندي په قوي تضمین خوشې کړي کله چې د دُرو د تطبیق په اړه د مقام هدایت یې ترلاسه کړ تر هغه وروسته دې د مقام د هدایت موافق اجراآت وکړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۴۸

### نېټه: ۲۱ /۱۴۴۴/۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۸) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۱۶هـ ق په تعقیب لیکو :

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام د دفتر ریاست په مکتوب نمبر(۷۱۸ج۱)مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۵هـ ق کې داسې هدایت شوی وو:((د سترې محکمې اړوند مسئولینو د تغیر او تبدیل په صورت کې دي هر مسئول ټول اسناد، اجناس، وسائط او بندیان چې د هغه ځای مربوط وي په پوره وضاحت سره نوي ټاکل سوي مسئول ته سپاري، تر څو نوي مسئول ته په کارونو کې هیڅ ابهام پاته نه سي، هیڅ مسئول دې نقلیه وسائط د ځان سره نه نقلوي کوم چې د هغه ځای مربوط دي.)) چې یاد هدایت د پورته ذکر شوي متحدالمآل په توسط ټولو محکمو ته استول شوی وو او د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت په اساس د یاد متحدالمآل په اخیر کې داسې یادونه شوې وه: ((د محاکمو هغه مسؤلین چې له یو ځای څخه بل ځای ته تبدیلیږي، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا ورکړل شوي سیمکارتونه دې هم (د هغه پر ځای نوي ټاکل شوي) مسؤل ته وسپاري ځکه چې دغه سیمکارتونه په ستره محکمه کې د شخص په نوم نه بلکه د محکمې یا دیوان په نوم ثبت دي او په دې طریقه به د شخص په بدلیدو د محکمې نمبر نه بدلیږي.))

دا چې ځیني وخت پورته ذکر شوي سیمکارتونو ته زنګ وهل کیږي ځیني یې فعال نه وي یا خو فعال وي خو پخواني مسؤل له ځان سره وړی وي او یا هم غیر فعال دي چې له امله یې د ولایتونو د استیناف او ابتدائیه محاکمو سره د رابطې او هماهنګۍ پروسه له خنډ او ځنډ سره مخ شوې ده.

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ټولو ولایتونو د استیناف محکمو محترمو رئیسانو صاحبانو ته خبر ورکول کیږي چې د خپل ولایت اړونده محاکمو د فعال او غیر فعال سیمکارتونو څخه اطمینان حاصل کړي او د فعال او غیر فعال سیمکارتونو جدول د دارالانشاء عمومي ریاست ته تر ۱۴۴۴/۹/۲۸ هـ ق نېټې پورې راواستوي تر څو د سترې محکمې محترم مقام سره یې معلومات شریک او په اړه یې لازم اجراآت تر سره شي.

پاتې برخه ص ۴

سرپرست مسئوول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

**د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه په مياشت کې درې ځله چاپيږي**

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۴۹
### نېټه: ۱۴۴۴/۹/۲۷ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۲۰) مورخ ۱۴۴۳/۱۲/۲۹ هـ ق په تعقيب ليکو :

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا د مجلس مورخ ۱۴۴۴/۷/۲۲ هـ ق د پنځمې پريکړې په هکله د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا څلورو علماء کرامو ته د ديوانونو د موضوعاتو د ترتيب په باره کي د بياکتنې هدايت شوی وو چي يادو علماء کرامو په دي اړه وضاحت د جنوب لويديځ زون د تميز عالي رياست او د ستري محکمې قضائي معاونيت د صادره نمبر (۱۷۲۱) مورخ ۱۴۴۴/۹/۴ هـ ق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته په لاندي ډول وړاندي کړی دی:

((څرنګه چي د ديوان امنيت عامه او ديوان نظامي د ځينو موضوعاتو تر منځ ټکر ښکاريدو او محاکم يې په تشويش کي اچولي وو او يا يې بل ديوان ته اړول بهتر ښکاريده، نو ټول هغه شپږ موضوعات چي سره ټکر ول يا يې نقل مناسب وو له دواړو ديوانو څخه حذف او پر جای يې داسي مواد او تعبيرات کيښودل سول چي ټکر پکښې نسته او هم شامل دي، ياد موضوعات په ديوان نظامي کي درى مادې:

۱ ـ څلورمه ماده: د خوارجو (دواعش) ډلې مربوط هر قسمه موضوعات.

۲ ـ پنځمه ماده: د احتساب موضوعات (سياسي).

۳ ـ شپږمه ماده: ځان وژنه.

د امنيت عامه په ديوان کي لاندي درى مادې:

۱ ـ څلويښتمه ماده: انسان تښتونه يا اختطاف.

۲ ـ يو څلويښتمه ماده: د اسلامي حکومت په ضد د ګروپونو جوړول.

۳ ـ درى څلويښتمه ماده: د بمونو ايښودل په (لارو او نورو ځايونو کښې)

پورتني شپږ مواد دې د دواړو ديوانونو له لست څخه حذف سي او په ځای دي په ديوان نظامي کې دوه مادې په دي شکل ځای پر ځای سي:

۱ ـ هغه ډلې چي د اسلامي امارت په ضد مسلحانه فعاليت کوي.

په دي ماده کي به ټولي هغه مسلحې ډلې چي د امارت په ضد فعاليت کوي راسي، لکه مقاومتيان دي، دواعش دي يا بله کومه ډله ده.

۲ ـ د اختطاف ټول موضوعات که منجر په قتل سره وي يا منجر په قتل سره نه وي اختطاف کونکی نظامي شخص وي يا غير نظامي شخص وي.

څرنګه چي دا موضوع مشکله او اکثر وخت اختطاف کوونکي زوړور خلک وي نو قوي محکمې ته ضرورت لري؛ ځکه مو ديوان نظامي ته ور اړول مناسب وبلل.

او د امنيت عامه ديوان په مربوط لست کي يوه ماده داسي راسي:

هغه ډلې چي د اسلامي حکومت په ضد غير مسلحانه فعاليت کوي.

په دي ماده کي به ټولي هغه سياسي ډلې چي د امارت پر ضد غير مسلحانه فعاليت کوي لکه حزب التحرير، جمعيت اصلاح وغيره داخلي سي.

او دوه موضوع ګانې چي مخکې د محاکمو د موضوعاتو په لست کي نه وي هغه دي هم د لاندي ديوانونو په لستونو کي اضافه سي:

۱ ـ (نا مشروع اړيکې) موضوع دي د ديوان جزاء په موضوعاتو کې راسي.

۲ ـ د (معادنو دعوي) موضوع دي د ديوان مدني په موضوعاتو کې راسي.

د پورته تحرير شوي وضاحت په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا داسي هدايت شوی دی:

((وکتل سو:

د ستري محکمې محترم مقام ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

وبعد: د علماوو پورته نظر زموږ له خوا تائيد دی تاسو پورته موادي د پورته وضاحت سره اړونده ديوانونو ته په متحدالمآل ډول وليږئ تر څو هر ديوان خپل مسؤليت پوره کړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د هدايت په اساس د ديوانونو د موضوعاتو د تعين په هکله د ټاکل شويو علماء کرامو د وضاحت مطابق د ديوانونو د موضوعاتو د تعين جدولونه مجدداً ترتيب او د ستري محکمې د محترم مقام د شفاهي هدايت په اساس د دې متحدالمآل مل په (۱۵) ورقو کي د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۰
### نېټه: ۱۴۴۴/۱۰/٦ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۹/٦هـ ق چي د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د حمل مياشتې د اتمې (۸) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د يادي غونډې څلورمه موضوع داسي وه: ((د افغانستان اسلامي امارت د زندانونو چارو د سمون اداري د مکتوب په توسط د محاکمو سره په اداري اجراآتو کي په پنځه مواردو کي مشکلات مطرح کړي چي خلاصه يې په لاندي ډول ده:

۱ — د محکمې د اجراآتو څخه د محبس اداره او بندي نه خبريږي هيله ده چي محاکم د هغه استعلام پرشا چي بندي پرې غوښتل شوی مونږ ته د خپلو کړنو لنډيز وليکي تر څو د محبس اداره بندي ته د هغه د بې سرنوشتی د شکايت کولو په وخت کي مناسب جواب ورکړي.

۲ ـ محاکم چي د کوم بندي د خلاصون فيصله کوي که په همغه ورځ فيصله او د خلاصون مکتوب محبس ته واستوي ترڅو يې محبس د خلاصون په هکله اجراآت وکړي او که د حبس فيصله وي نو د يوې هفتې په موده کي که د فيصلې کاپي محبس ته واستوي ترڅو متهم د توقيف څخه محبس ته واړول شي.

۳ — بعضي محکمې چي په متهم فيصله کوي د جانبينو د قناعت او عدم قناعت خبره نه واضح کوي که محکمه د خپلې فيصلې په پای کې په واضح ډول د طرفينو د قناعت او عدم قناعت خبره وليکي تر څو د فيصلې قطعيت او يا جريان معلوم شي.

۴ ـ په آينده کي که محاکم د مستردی د اجراآتو د مکتوب يوه کاپي مربوطه محبس ته واستوي ترڅو يې محبس او يا د بندي وارثين په مربوطه مرجع کي دوسيه تعقيب کړي.

۵ — ځيني محکمې چي په يو متهم د حبس حکم وکړي، د مدعي او مدعی عليه د قناعت په اساس موضوع قطعي سي نو محکمه مربوطه محبس ته خبر نه ورکوي او تر څو چي د محکمې لخوا د محبوس د رهائي مکتوب نه وي راغلی تر هغه ياد محبوس له بند څخه نه ازاديږي هيله ده چي په دغسي مواردو کي مربوطه محبس ته خبر ورکړل شي.))

د ستري محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۵) مورخ ۱۴۴۴/۹/۶هـ ق د څلورمې پريکړې په اساس د يادي موضوع په اړه داسي هدايت وکړ:

د عالي شورا څلورمه پريکړه:

٤ ـ ۱ مربوطه محکمه دې د زندانونو چارو د سمون اداري اړوند د مربوطه ولايت د محبس آمريت ته لنډ معلومات ليکي چي موضوع تر جريان لاندي ده يا يې فيصله وسوه، د فيصلې تر ابلاغ وروسته دي د فيصلې د قطعيت يا لوړي محکمې ته د استولو خبره هم د محبس آمريت سره شريکه کړي.

٤ ـ ۲ کله چي محکمه د يوه مجرم په اړه فيصله وکړي که محکوم عليه قناعت پرې وکړي او که قناعت ونه کړي په دواړو صورتونو کي بندي د توقيف څخه محبس ته انتقاليږي خو په محبس کي دوه بلاکونه ورته جوړ شوي دي، هغه بنديان چي موضوع يې په اوله مرحله کي قطعي شوي وي هغه په يوه بلاک کي ساتي او هغه چي موضوع يې تر محاکماتي جريان لاندي وي هغه په بل بلاک کي ساتل کيږي، نو په دې اساس ټول محاکم دې د فيصلې د صدور څخه وروسته اړونده محبس ته خبر ورکړي تر څو د محبس اداره بندي د توقيف څخه و محبس ته انتقال او په محبس کي يې د ساتلو د ځاي د تعين په باره کي اصولي اجراآت وکړي.

٤ ـ ۳ په دې اړه به ټولو محکمو ته هدايت وکړو چي د فيصلو د قطعيت او يا عدم قطعيت جريان دې د مربوطه محبس سره شريک کړي.

۴ ـ ۴ ټولو محکمو ته به هدايت وکړو چي په آينده کي کله چي يوه موضوع د محکمې لخوا د عدم صلاحيت په وجه رد سوه د مستردي د مکتوب يوه کاپي دې محکمه مربوطه محبس ته واستوي ترڅو يې محبس او يا د بندي وارثين په مربوطه مرجع کي دوسيه تعقيب کړي.

٤ ـ ٥ ټولو محکمو ته به هدايت وکړو چي د بندي تر وخت پوره کيدلو دوه ورځې مخکې مربوطه محبس ته د محبوس د خلاصون په اړه مکتوبي معلومات ورکړي.


دارالانشاء عمومي رياست دې د دغه پريکړې ټول اجزاء محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

## د سترې محکمې ۱۴۰۱ هـ.ش کال لاسته راوړنې

**د افغانستان اسلامي امارت محاکمو د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جريان کې په درېيو مرحلو (ابتدائيه، مرافعه او تميز) کې په ټوليز ډول (۱۳٤۲٤۹) دوسيې حل او فصل کړې دي، له دې ډلې (۱۰۵۲۰) دوسيې د ښځو د حقونو او (۴۴۹۲) د نشه يي توکو اړوند دي.**

**دغه راز د هيواد محاکمو د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جريان کې (۱۵۲۴۱۶) بېلا بېلې وثيقې هم اجرأ کړې دي.**




ميزان
د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳